- کیمیا تغریف: کیمیا هغه علم دی چی د مادی حواص جوړښت ترکیبونو تعاملونو او په هغه کی رامنځته شو بدلونونو څخه بحث کوی. لکه اوبه ($H_2O$)

- عضوی کیمیا تغریف: عضوی کیمیا هغه علم څخه عبارت ده چی د کاربن، هایدروجن، اکسیجن، نایتروجن د عنصرونو څخه یا په بل عبارت د کاربن د کیمیا څخه بخث کوی.

- مادی تغریف: هر هغه شی چی وزن او حجم ولری د فضا یو برخه اشغال کړی د مادی په نوم یادیږی.

- ماده دری خالتونه لری: جامد، مایع، گاز
- جامدات: هغه مواد دی چی ټاکلی شکل او ټاکلی خجم ولری جامدات ورته وایی.
- مایغات: هغه مواد دی چی ټاکلی حجم ولری اوټاکلی شکل ونلری.
- گازات: هغه مواد دی چی نه ټاکلی شکل او نه ټاکلی حجم لری.
- ماده په دری ډوله ده: عنصر، مرکب، مخلوط
- عنصر تغریف: هغه ساده او بسیت مواد دی چی یو ډول هستوی چارجونه ولری.
- مرکب تریف: مرکبات هغه مواد دی چی د ترکیب کوونکو موادو لومړنی خاصیت ونلری او ترمنځ یی تعامل ځای ولری.
- مخلوط تغریف: هغه دوه مادی چی داسی سره یوځای شی ترمنځ یی تعامل صورت ونه نیسی او خپل لومړنی حاصیت اهم ټکی کی ولیدل شی د مخلوط په نوم یادیږی.لکه چنی او میوی
- مخلوط په دوه ډوله دی: متجانس مخلوط ، او غیری متجانس مخلوط

۱:متجانس مخلوط ۲: غیری متجانس مخلوط

۱ : متجانس مخلوط هغه مخلوط دی چی په ټولو برخو کی یو شان فزیکی او کیمیاوی حواص ولری. لکه بوره

۲ : غیری متجانس مخلوط چی په ټولو برخو کی مختلف فزیکی او کیمیاوی حواص ولری. لکه وریژی او می

- مالیکول تفریف: د یو مادی کوچنی ذره ته مالیکول وایی چی مختلف او هم نوغه ایونونوڅخه جوړشوی وی.
- ایون تغریف: هر چارج داره ذره د ایون په نوم یادیږی.
- وزن تغریف: د ځمکی دجاذبی کشش په یو جسم باندی عبارت دی له وزن څخه.
- د کتلی تغریف: د مادی هغه مقدار چی نوموړی جسم ورڅخه جوړ شوی وی د کتلی په نوم یادیږی.
- دکتلی او وزن تر منځ توپیر:چی وزن یو وکتوری کمیت دی او کتله سکالری کمیت دی وزن ثابت نه دی اوکتله ثابته ده.
- دکثافت تغریف: د یو سانتی متر مکغب حجم کی د مادی مقدار ته کثافت وایی.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

- سمبول تغریف: د عنصر نوم لنډی نښی ته سمبول وایی.
- داتوم تغریف: اتوم کوچنی دره د عنصر ده چی کیمیاوی تعاملاتو کی یو واحد په حیث کار کوی.
- اووه عنصرونه په مالیکولی ډول پیداکیږی چی عبارت دی له : هایدروجن، نایتروجن، اکسیجن، فلورین، ایودین، کلورین،برومین
- عضوی مواد:لکه کاربن، پروتیین،ویټامین،شحمیات او کاربوهایدریټونه

غیری عضوی مواد:لکه اوبه او معدنی مالگی

- دایزومیری تغریف:په عضوی مرکبونو کی چی جمعی او مالیکولی فورمولونو یی یو شان او ساحتمانی فورمول یی فزیکی او کیمیاوی حواص یی سره توپیرولری د یو بل ایزومری بلل کیږی.
- دمادی فزیکی حواص په څلور ډوله دی: رنگ، بوی، خوند،خلا
- د الکانونو فزیکی حواص عبارت دی: ۱نه تر ۴ پوری پیه مایغ او ۴ نه تر۱۷ پوری په گاز او ۱۷ نه ببیورته چاد حالت بیدا کیږی.
- په عضوی مرکبونو کی اشتراکی اړیکی دری ډوله دی : یو گونی اشتراکی اړیکه دوه گونی اشتراکی اړیکه دری کونی اشتراکی اړیکه
- یو گونی اشتراکی اړیکه: چی ددوو اتومونو تر منځ د یوجوړه الکترونونو په شریکو لو سره منځ ته راځی او په یو کرښه باندی - ښودل کیږی.
- دوه گونی اشتراکی اړیکه: چی د دوو اتومونوتر منځ د دری جوړه الکترونونو پیه شریکولو سره منځ ته راځی په دوو کرشو= باندی ښودل کیږی.
- دری گونی اشتراکی اړیکه:د دوو اتومونو تر منځ د دری جوړه الکترونونو په شریکولو سره منځنته راځی او په دری کرښو سره ښودل کیږی.
- په طبعی گاز کی ۹۰ فیصده میتان شتون لری.
- دمادی حواص په دوه ډوله دی فزیکی او کیمیاوی حواص

۱فزیکی حواص ـ دمادی هغه ظاهری حواصو څخه عبارت دی چی د مادی کیفیت بی له تعیره مطالعه کیږی.لکه رنگ،بوی،خوند،خلا

۲کیمیاوی حواص. دمادی هغه حواص دی چی د مادی په کیفیت کی بی تعیره نشی مظالعه کیدی. لکه هایدروجن چی اکسیجن سره تعامل وکړی.

- دفورمول تغریف: په ټاکی نثبت د مرکب د جوړونکو عنصرونو سمبولونو مجموعی بڼی ته فورمول وایی.
- د ویلی کیدو ټکی: عبارت به هغه مقدار تودوخی څخه چی یوه جامده ماده په هغه کی مغینه درجه ویلی کیدوراځی.
- د ایشدو ټکی : عبارت له هغه اندازه تودوخی څخه دی چی یو ماده پکی په جوش راځی.
- اتوم دوه برخی لری: مدار او هسته : په هسته کی دوه چارجونه دی پروتون او نیوترون او مدار کی الکترون دی.
- یو قیمته قندونه عبارت دی له:گلوکوز،فرکتوز،مانوزاو گلکتوزاو فورمول یی:$c6\,H_{12}\,o_6$

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دوه قیمته قندونه عبارت دی له:سکروز، مالتوز،لکتوز او فورمول یی: $c_{12} H_{22}\ o_{11}$
- ځو قیمته قندونه عبات دی له: نشایسته ،سلولوز،ګلایکوجن او فورمول یی: $c_6 H_{10}\ o_5$
- صابون د شخمی تیزابنو د سودیم یا پوتاشم مالګه ده صابون فورمول یی: c17 H35 NaoH
- هایدروکابونونه په دوه ډوله دی. الیفاتیک او اروماتیک
- الیفاتیک په څلور ډوله دی: الکانونه او فورمول یی: $c_n H_2n+2$ ، الکانونه او فورمول یی: $cn\ H_2n$،
سایکلوالکان او فورمول یی: $cn\ H_2n$ ، الکانونه او فورمول یی: $cn\ H\ _2n\ +2$
- اروماتیک په دری ډوله دی:بنزین او فورمول یی: $cn\ H_2n$-6، نفتالین او فورمول یی:

$Cn\ H_2n$-12، انتراسین او فورمول یی: $cn\ H\ _2n$ -18

- د یتر عمومی فورمول: R-OR الدیهایدونو عمومی فورمول: R- CHO: میتانل عمومی فورمول: H-CHO: کیتون عمومی فورمول: R-CO-R: عضوی تیزابونو عمومی فورمول: R-COOH فارمیک اسید عمومی فورمول: H-COOH
- نوکلیدونو تعریف:د پروتونونو او نیوترنونو مجموعی شمیر مساوی د نوکلیدنوسره.
- د ایزوتوپونو تعرتف: د پروتونونو مجموعی شمیرمساوی د ایزوتوپونو سره.

- داور بیتال تعریف: اوربیتال له لاتینی کلمی څخه احیستل شوی چی د ځالی معنا ورکوی او په اصطلاح کی د هستی په شاوخوا کی د هغی فضا څخه عبا رت دی چی الکترون پکی په قوی اټکل سره خرکت کوی.
- په طبعت کی ۹۲ عناصر په طبعی ډول او پاتی نور یی په مصنوعی ډول کشف شوی دی.
- عنصر دری ډوله حواص لری: فلزی، عیری فلزی،او شبه فلزی.

۱فلزی حواص چی نور ورځخه په منظم ډول تیریږی لکه اوبه او داسی نور شیان

۲عیری فلزی حواص: چی نور ورڅخه په منظم ډول نه تیریږی لکه ښیښه لرګی اوداسی نور

۳شبه فلزی: چی فلزی اوغیری فلزی خواص دواړه ولری

- په دورانی جدول د طاقو پیریودونوکی د عنصروتو شمیر د معلومولو فورمول:

$\frac{(n+1)^2}{2}$

- په دورانی حدول د طاقو بیریودونو کی د عنصروو شمیر د معلومولو فورمول:

$\frac{(N+2)^2}{2}$

- د الکترو نیګاتیویتی:د الکترون د جذلولو قابلیت ته الکترونیګاتیویتی وایی.
- دالکتروپوزیتویتی: د الکترون ورکولو میل ته الکتروپوزیتویتی وایی.
- آتومی شعاع: د یو اتوم د هستی او آحیرنی مدار تر منځ او فاصله ته اتومی شعاع وایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

☜ دواندروالیس اتومی شعاع:د دوومجاور هستو تر منځ نیمه فاصله د واندروالیس اتومی شعاع په نوم یادیږی.

☜ د اکسیدیشن نمبر تفریف:د یو ایون د چارجونو شمیر ته د اکسیدیشن نمبر وایی.

☜د ولانس تفریف: د عناصیرو د اتحاد قوی ته ولانس وایی.

☜ د ګلیسرین فورمول: $C_3H_8O_3$

☜ د ایزوتوپ: ایزوتوپونه هغه مواد دی چی اتومی نمبرونه یو شان او اتومی وزنونه یی سره فرق ولری د ایزوتو په نامه یادیږی مثال: cl = 17 + 20= 37

Cl = 17 + 20= 35

☜ ایزوتون: هغه عناصر چی محتلف دی او د نیوترون تعداد یی سره یو شان وی د ایزوتون په نامه یادیږی. Mg = 12+12=24

Na =11+12=24

☜ ایزوبار:مختلف عناصر چی اتومی وزنونه یی سره یوشان وی او اتومی نمبر یی سره فرق ولری د ایزوبار په نامه یادیږی. k =19 + 21=40

Ar = 18+22=40

☜ پارامګنیتزم: هغه عناصر چی د مقناطیس د جذبولوحاصیت ولری او مقناطیس ذری جذب او مقناطیس حاصیت په ځان کی پیداکړی د پارامګنتیزم په نامه یادیږی.

☜ دیامګنتیزم:هغه عناصر چی مقناطیس ساحه کی د مقناطیس قوی حطونه ځانه رفه کړی د ډ یامګنیتزم په نامه یادیږی.

☜ د راډ یکل تفریف: د څو اتومونو ایون ته راډیکل وایی.

☜ وظیفوی ګروپونه: هغه ګروپونه چی د عضوی مرکب په مالیکول کی له مشخصو اتومونو څخه جوړشوی دی.

☜ سپین تفریف:سپین یو لاتینی المه ده چی د تاویدلو په معنا ده الکترون پروتون او نیوترون د سپین قیمت دی.

اصلی سویه او اصلی کوانتوم نمبرونه: n= 1-2-3-4-5-6-7

k L m n o p q

☜ داوربیتالونو شمیر په هره اصلی سویه کی $(2n)$فورمول په واسطه ټاکل کیږی.

☜ دللکترون اعظمی شمیر په هره اصلی سویه کی $(2n^2)$فورمول په واسطه ټاکل کیږی.

☜ ایونی اړیکه چی د دوو یا څو اتومونو تر منځ د الکترون د راکړی دورکړی له امله جوړیږی.

☜ تصعید: د یو جامد مستقمیا په ګاز بدلولوته تصعید وایی.

او یا ګاز په جامد بدلولو ته وایی. صابون : ا شحمی تیزابونو د سودیم یا پوتاشم مالګه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- سلیوس د تودوخی درجی د اندازه کولو واحد دی.
- ترمامتر هغه وسیله ده چی د یو جسم سوړوالی او ګرم والی معومولی.
- انبساط: د یو جسم حجم پرسیدل د انبساط په نامه یاېږی یا په بل عبارت د تودوخی درجی زیاتیدو په اثریو جسم د حجم زیاتوالی ته انبساط وایی.
- انقباض: د یو جسم دراتولیدل ته وایی او یا په بل عبارت د تودوخی درجی د ټیټیدو په اثر د یو جسم د حجم کموالی ته وایی.
- ذوبان هغه حالت چی یو مادی جسم پکی د حرارت په معینه درجه کی د یو جامد څخه په مایع تبدیل شی ذوبان یا ویلی کیدل وایی.
- انجماد مایعات پهجامداتو بدلولوته انجماد ( کلکیدل)بلل کیږی.
- میغان هغه براسونه چی د مایع څخه پورته ختلی دی او د سوړوالی په مایع شی دغی عمل ته میعان وایی.
- علیان ( ایشدل) د مایع جوشیدو ته په علمی اصطلاح علیام وایی بل عبارت د تودوخی هغه درڅجه چی مایع پکی په جوش راځی.
- دناحالصی اثرات د مالګی عوندی یوه ماده چی په یوه حالصه ماده لکه اوبو کی یوځای شی ناحالصی بلل کیږی.
- دجامداتو د وضعیت پرتله کول: په جامداتو کی مالیکولونه د یو بل سره ډیر نژدی نښتی او ټینګ وی او حرکت فقط خوځیدونکی وی له دی امله ثابت شکل حجم لری.
- د مایعاتو مالیکولونه پرتله کول:په مایعاتو کی د مالکولونو یوځای والی لږ کم وی هر مالیکول کولی شی چی د حیل ځای ته تعیر ورکړی له دی امله ثابت شکل نه لری او ثابت حجم لری.
- په عازاتو د مالیکولونو پرتله کول: په عازونو کی د مالیکولونو تړون ډیر ضعیفه دی او هر مالیکول کولی شی چی په ازلده توګه په فضا کی حرکت وکړی نه ثابت شکل او نه ثابت حجم لری.
- په دوو جسمونو په مهځ کی حرارت په دری ډوله دی ۱: هدایت یا کاندکشن۲: بهر جریان یا کانویکشن۳: وړنګتیا
- هدایت یا کاندکشن: د یو جسم د ذراتویا اتومونو په وسیله د حرارت حیریدل بعیرددی څخه چی د جسم اتومونه یامالیکولونه حیل ځای تعیر ورکړی یعنی د مالیکولونه د اهتزاز په اثر د حرارت انتقال په اثر صورت نیسی چی دا ډول خیریدل د حرارت یا هدایت په نامه یادیږی.
- بهیر یا جریان: په مایعتو او ګازاتو کی د تودوخی په ولسطه د سړو او تودو ذراتو ځای په ځای کولوته بهیر یا جریان ویل کیږی.
- وړنګتیا یا تشعشع یا ایدشن: یو جسم ته د تودوحی ته انتقال له منځه څخه د تشعشع په اثر د تشعشع د طریقی په نامه یادیږی د تودوخی د تشعشع په طریقه کی د حلا څخه هم تیریدی شی.
- د تودوخی تبادوله: د تودوخی انتقال د تودوخی د یوی سرچینی څخه په چاپیریال یا په بل حجم کی د تودوخی د تبادول په نوم یادیږی.

- د تودوخې تحفظ:د یو محیط د تودوخې درجیساتل په سمه توګه د محیط د عایق په اثر د تودوخې تحفظ په نامه یادیږي.
- ترموز: هغه لوښی دی چې په هغه کې د دری واړو طریقو د تودوخې انتقال مخنیوی وشی د ترموز په نامه یادیږي.
- احترقی انجینونه : هرهغه وسیله چې دتودوخې انرژی په میخانیکی انرژی بدلوی د حرارتی انجینونه ورته وایي.
- مقناطیسی ساحه: مقناطیسی ساخه د مقناطس د شاوخوا هغه فضا ده چې په هغه کې قوه عمل کوی.
- مقناطیسی هم دوله قطبونه یو بل دفع کوی او هم النوع یو بل جذبوی.
- د مقناطیسی ساخې حطونه: که د مقناطیس په شاوخوا کې د اوسپنې ذرې واچود حطونو په څیر منظم کیږی چې دا حطونه د مقناطیسی د حطونوپه نوم یادیږي.

یونس مقناطس د قدرت له پلوه په لاندې عواملو پورې مستقیم تړاو لري.

۱: په کوایل کې د بریښنا د جریان شدت

۲:د حلقود شمیرزیاتوالی ۳:د هستی نوعیت

- د بریښنایي چارج:د اتوم په هسته کې هغه ذره چې د پروتون د pپه توری سره ښودل کیږی او مثبت چارج لري.
- داتوم مدار کې هغه ذرې چې دالکترون eپه توری سره ښودل کیږی او منفی چارج لري.
- د اتوم د پروتونو نو او الکترونو نو شمیره مساوی دی چې په دی حالت اتومونه حنثی دی او بریښنایي چارج نلري.

الکترومترد جسم د چارجولو وسیله ده. د کولمب قانون:

$$f=k\frac{q1 \cdot q2}{E \cdot @^2}$$

- الکتروسکوپ:یوه حساسه اله دی چې د هغې په واسطه په یوجسم کې د ساکنی بریښنا لری اندازی شتون معلومولی شی.
- هغه جسمونه چې چارج ترې تیرې د هادی جسمونوپه نامه یادیږی لکه اوبو سم او داسی نور------
- هغه جسمونه چې چارج ترې نه تیریږی د عایق جسمونو په نامه یادیږی لکه لرګی تیږه او داسی نور------ -
- د جسمونو د همدوله او مختلف النوع چارجونو معلومول د چارج د ازمایښت په نوم یادیږی.
- د یو بی چارج هادی جسم چارجیدل د یوی چارج لرونکی چسم په څنګه کی کیښودلو په وحت د بریښنا القا په اثر په نوم یاریږی.
- جسمونو د سولولو او یا دالقا په اثر د الکترون د ورکولو او یا اخیستلو په سبب ال د چارجونود داقغوی حاصیت دلرلو په سبب بریښنا یی کیږی.
- په وریځو کی د ساکنی بریښنا یی کیدو د ځمکی او وریځو او یا د وریځی په منځ کی نه تاللده او بریښنا د رعد و برق وایي.
- قوه هر هغه عامل چې متحرک جسم او ساکن جسم متحرک کړی قوه بلل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- جهت وکتور لرونکی مستقم حط ته وکتور ویل کیږی.
- کله چی په یوه جسم باندی قوه واردیږی جسم هم په هغی باندی قوه واردوی چی هغوی ته عمل او عکس العمل وایی.
- سگما: اړیکه که چیری د اوربیتالونو ننوتل په نیغ په نیغه تر سره شی دی ډول اړیکه ته سگما اړیکه وایی.
- پای اړیکه: که چیری د اوربیتالولو ننوتل د جانبی اړخ څخه تر سره شی د ی ډول اړیکه ته د پای اړیکه وایی. لکه د اکسیجن او نایتروجن
- د کیمیا وی اړیکو پریکیدل : په دوه محانیکاتونو پریکیږی ۱ : هوموليتکی ۲ هیترولیتکی

۱ : هوموليتکی پریکړه کی د هر اتوم الکترون د اړیکی په جوړیدو کی په کار وړی بیرته راعلی او هره ذره یی طاقه الکترون لرونکی ده لکه: h-h ⇌ h- h

- په هیترولیتکی پریکړه کی د اړیکی جوړه الکترونونه یو الکترونیگاتیف اخلی او بیلابیل چارج لرونکی ایونونه لری لکه h+ cl: ⇌ h-h
- کواردنشن اړیکه : هغه اړیکه ده چی د یو اتوم محوا جوړه الکترونونه بل اتوم ورکول کیږی هغه اتوم چی اکترون ورکوونکی وی دونر او الکتون اخیستونکی ایکسیکتړو او کومه چی د دوی تر منځ تشکلیږی د دونرر او ایکسیکتړو په نامه یادیږی .
- انحلالیت: هغه مقدار ماده چی د تودوخی په ټاکلی درجه کی په سل سانتی متره اوبو کی حل کیږی د نوموړی مادی د انحلالیت څخه عبارت دی
- هغه عضوی مرکبونه چی یو میتالین په اندازه فزیکی او میمیاوی حواص د یو د بل څحه فرق ولری د هومولوک په نامه یادیږی.
- کاربن په دری ډوله دی الماس گرافیت د ډبرو سکاره او گرافیت په کاربه کی ځای لری
- محلولونه له هغه موادو او سیستمونو څخه عبارت دی چی د منځله موادو په حل کولو سره په مخلل کی جوړیږی تولی برخی یی متجانس برکیب لری.
- منحله حل کیدونکی او محلل حل کوونکی
- محلولونه په دری فزیکی حالتونو کی قرار لری گاز، مایع، جامد
- جامد محلول: لکه د سرو او سپینو ذرو گډ محلول
- د علظت له محی محلولونه په دری ډوله دی ۱ مشبوع ۲ عیر مشبوع ۳ مافوقه مشبوع

۱ : مشبوع هغه محلولونه دی د منحله مادی یوه زیاته اندازه په ځاه کی حل کړی وی لکه: بوره اوبه

۲عیر مشبوع محلولونه : هغه محللونه د ی چی منځله مادی یوه کمه اندازه په ځان کی حل کړی وی

۳مافوقه مشبوع محلولونه دی چی مشبوع څخه زیاته اندلزه منحله په ځان کی حل کړی

- کولیگاتیف: د ذرو حرکت او علظت ته وایی.
- خیریدنه: د علیظ محیط څخه رقیق محیط به د ذزو یا مالیکولونو تیریدل عبارت له حیریدنه څخه ده
- اسموس : د نیمه قابل نفوذ پردی څخه د مایع یا د موادو تیریدو ته اسموس عملیه وایی.
- ایزوتانیک:کی داخل ایونونو علظت او حارجی فشار یی مساوی وی ایزوتانیک محلول په نوم یادیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هایپرتانیک هغه محلولونه د ی چی د داخلی هاونونو علظت کی کم او حارجی فشار یی زیات وی
- هایپوتانیک: هغه محلولونه دی چی د داخلی ایونونو علظت یی زیات او حارجی فسار کم وی
- الکترولیت محلولونه هعه محلولونه چی د بریښنا هادی ویی
- عیرالکترولیت :محلولونه هعه اوبلن مخلولونه دی چی د بریښنا هادی نه وی.
- تیزاب هغه مرکبونه دی چی د هغوی په اوبلن محلول کی هایدروجن ایون ازادوی یا تولیدوی. Hcl h₂o H + cl
- القلی هعه مرکبونه دی چی په اوبلن محلول کی د هایدرواکساید ایون ازادوی یا تولیدوی. Na ( OH ) H₂o Na + (OH)
- د علظت او چټکتیا تر منځ اړیکه د تعملونو د چټکتیا د معادلی په نوم یادیږی.
- ارهینوس معادله : ارهینوس وموندله چی د چټکتیا زیاتوالی سره اړیکه نه لری او د ډیرو تعاملونو چټکتیا ثابته تودوخه سره سم دی معادله یی داده:k = acx ( Ea.)
- په کیمیاوی تعاملونو په چټکتیا اعیزمن عوامل: ١د تعامل کوونکو موادو حواص ٢: د تعامل کوونکو موادو فزیکی حالاتونه ٣: علظت ۴: تودوخه ۵:کتلست
- د تعامل کوونکو موادو د ذرو د ټکر فرضیه ادا دری ښکنی لری ١: د ټکرونو شمیر باید زیات وی ٢: د ذرو لوی باید ټاکلی وی ٣:د ټکر پر وخت باید د ذرو انرژی ډیره وی.
- کتلست: هغه مواد دی چی په تعامل کی برخه اخلی تعامل ګرندی کوی او پخپله پکی نه مصرفیږی.
- کیمیاوی تعامل : په کیمیاوی تعادل کی د لیدلو وړ او روښانه متعبر شواهد د تعادل د حالت په تر سره کیدو کی نه لیدل کیږی. H₂o $H_2$ +o چی ادا حالت په حپل سر د بدلونونو په پایله کی منځته راځی.
- د کیمیاوی تعادل ځانګرتیاوی: ١ : د لیدلو وړ او معتبر شواهد دری تعادل د لیدلو لپاره نه لیدل کیږی.

٢: ادا حالتونه په خپل سر د بدلونونوله امله منځته راځی.٣: دینامیکی توازن د رجغی تعا ملونو په منځ کی بنایی.

- د لی شاتلیه اصل اعیزمن عوامل: ١: د علظت بدلون ٢: فشاز ٣: تودوخه درجه ۴: کتلست
- اندوترمیک هغه تعاملونه دی چی پرته د تودوخی ورکولو ځخه سر ته رسیږی لکه د چونی ډبره
- ازوترمیک هغه تعاملونه دی چی د تودوخی په ورکولو سره سرته رسیږی
- امونیا د لومړی ځل لپاره د هایدروجن د نیع پر نیع تعامل ځخه جرمنی عالم فرتس هایبرپه لاس راوړه. 3H3 + N2 2NH3
- فرتس هایبر په ١٨۶٨-١٩٣۴ م پوری ژوند کړی.
- فرتس هایبر او کارل بوس په نوم عالم ١٩١٨د نوبل جایزه واخیسته.
- نارملتی علظت عبارت د حل کیدونکی مادی معادل ګرام (Eq_ g) محلول یو واحد حجم کی دی.
- ګدایون: په سیستم کی د ایون زیاتول چی په همعه سیستم کی د شاملو ایونونو ځخه د یو سره یو ډول وی د ګډ ایون په نوم یادیږی.
- امریکایی پوه ګیلبرټ په ١٩٢٢ کی د تیزانو او القلیو په باره کی داسی ویلی دی القلی هغه مرکبات دی چی کولای شی حپل جوړه ازلد الکترونونه له لاسه ورکړی.
- تیزاب هغه مرکبات دی چی د نورو مرکباتو ازاد د الکترونونه ځان ته اخلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ☜ تیزابو او القلی حواص : اوبه هم د تیزابو او القلی په توګه ځان ښکاره کوی اوبه د امونیا سره په تعامل کی تیزابی حواص لری Hclاو (CH3- cooH) استیک اسید سره د القلی په توګه عمل کوی.
- ☜ مولالیتی علظت عبارت د خل کیدونکی مادی د مولونو اندازه مخلل په یوه واخد کتله کی دی.
- ☜ تیرعلظت عبارت د حل کیدونکی مادی د ګرامونو اندازه په یو ملی لیتر محلول کی ده.
- ☜ اسیموتیک فشار د سطحی په یو واحد باندی وارده شوی قوه په محلولونو کی د سموتیک فشار څخه عبارت دی.
- ☜ مولاریتی علظت د مولونو د حل شوی مادی مقدار د محلول یو واخد حجم څخه عبارت دی
- ☜ ایزلوک تعریف: هغه عضوی مرکبونه چی د کاربن تغداد یی مساوی او د هایدروجن تعداد یی سره فرق ولری د ایزلوک په نوم یادیږی.
- ☜ مالیکولی وزن څه ته وایی: د عناصرو داتومی وزنونود مجموعی څخه عبارت دی.
- ☜ مالیکول تعریف: د مرکب کوچنی ذره ته مالیکول وایی.
- ☜ د یو نه تر لسو پوری لاتینی حساب: میتا ایتا پروپا بیوتا پینتا هګزا هفتا اوکتا نونا دیکا
- ☜ Hybridization: په یونانی ژبه کی د هایبرید کلمه د وینی د احتلاط په معنا ده یعنی هغه نسل چی د دوو بیلابیلو نسلونوڅخه حاصل شوی دی امتزاج یا ګډ وډیدو مفهوم رسوی په دی ځای کی د دوو یا څو بیلابیلو اتومونو د اوربیتالونو د احتلاط څخه منظور دادی چی دوه یا څو نوی هایبریدی اوربیتالونه لاسته راوړی.
- ☜ هلوجن : لغوی معنا مالګی جوړول مالګه دعو عناصرو څخه چوړیږی فلورین کلورین  بریلیم انودین کولی شو عصوی مرکبونه د حیوانی او یا معدنی او نباتی منابعو څخه لاسته راوړو.
- ☜ عضوی مرکبونه چی د کومو عناصرو څخه جوړ شوی عبارت دی له د فلزاتو څخه اوسپنه مس مګنیزم ارسینک سلیکان سیماب او دلسی نور.
- ☜ اتومی سپیکتریا طیف:د منشور یا هغی ته ورته آلوپواسطه د لمر د وړانګو تجزیه په ۷ اوو رنګونو باندی په مختلفو موجونو او سرعتونو سره د طیف په نوم یادیږی.
- ☜ طیف په دوه ډوله دی: مسلسل طیف او حطی طیف

۱ : مسلسل طیف هغه طیف ته ویل کیږی چی د یو رنګ په حتمیدو سره بل رنګ په داسی ډول شروع شی

چی تر منځ یی کومه فاصله وجود ونلری لکه ټول جامدات.

۲ : خطی طیف: هغه طیف ته ویل کیږی چی د یو رنګ په حتمیدو سره بل رنګ په داسی ډول شروع شی چی تر منځ یی فاصله وجود ولری لکه ټول غازات او مایعات.

- ☜ سپیکتورومتر: یو فزیکی سنجوونکی آله ده چی د هغی پواسطه د طیف په هکله اندازه او سنجش کیږی.
- ☜ بلورونه : جامد جسمونه دی چی منظم شکل لری دغه شکل ته بلوری شبکه وایی.

☜ فزیک برخه

فزیک د فیوزس یو یونانی کلمه څخه اخیستل شوی چی معنا یی طبغت دی یا هغه علم دی چی د مادی د ظاهر تعیراتو څخه بحث کوی.

عطاءالرحمن محمدی شینواری

(c) ketabton.com: The Digital Library

فزیک په نظری ډول په پنځه ډوله دی

۱: میخانیک ۲: ترموډینامیک ۳: الکترومقناطیس ۴: کوانتم میخانیک ۵: نسبت

۱: میخانیک د اجسامو میخانیکی تیوری یا نظری مطالعه کوی.

۲: ترموډینامیک تودوخه او د تودوخی درجه مطالعه کوی.

۳: الکترومفناطیس بریښنا مقناطیس او د الکترومقناطیس ورانگو تشغشع څیری.

۴: کوانتم میخانیک میکروسکوپیک شان مطالعه کوی.

۵: نسبیت د ذراتو او د سرعت مطالعه کوی.

کلاسیک فزیک څانګه عبارت دی میخانیک اکتروډینامیک ترموډینامیک

کوانتم میخانیک د مادرن فزیک په نوم هم یادیږی.او ریاضی د فزیک ژبه ده

اندازه کول: د واحد سره د یوه عدد پرتله کولو ته اندازه کول وایی.

- واحد:هغه شی چی مطلوب جسم مقدار پری معلومیږی د واخد په نوم یادیږی لکه کیلوګرام
- بین المللی واحدات د استعمال له مخی په دوه قسمه دي ۱:اصلی واخداث ۲: فرعی واخدات
- ۱اصلی واحدات: هغه واخدات دی چی یوازی استعمالیږی د بلواخد سره اړه نلری.
- اصلی یا اساسی واحدات اووه ۷ دی
- ۱د طول واخد ۲ دکتلی واخد ۳: د وخت واخد ۴: د بریښنا د جریان واخد ۵:د تودوخی درجی واخد ۶: د ذراتو د مقدار واخد ۷: نور د شدت واخد
- د اوږدولی واخد متر دی د متر څخه لوی واخداتو ته د متر اضعاف وایی چی عبارت دی
- براس د مایعاتو بدلید په ګازاتو باندی عبارت د براس څخه دی
- تراکم د موادو راتولیدو ته د تراکم عملیه وایی یعنی د جامد جسم بدلیدل په مایع او مایع جسم بدلیدل په ګاز باندی د براکم په نوم یادیږی.
- فزیکی بدلونونه هغه بدلونونو ته وایی چی یوازی د مادی ظاهری شکل بدل کړی.
- حالص مواد هغه مواد دی چی نور مواد پکی نوی حل شوی
- کیمیاوی تعامل هغه پیښه چی یو یا څو کیمیاوی مواد یو تر بله متقابل عمل وکړی او نوی مواد جوړکړی
- سمبولیکی معادلی هغه معادلو ته وایی چی عناصر پکی په خپلو سمبولونو ښودل کیږی او تعامل کوی.
- تجزیوی تعامل هغه تعامل ته وایی چی یوه ماده په څو نورو موادو باندی تجزیه شی.
- جمعی تعامل هغه تعامل ته وایی چی دوه یا څو توکی سره یو ځای کیږی او یوه نوی ماده تشکیلوی.
- احتراقی تعامل هغه تعامل چی په هغی کی یوه ماده د اکسیجن په موجودیت کی سوځی د احتراقی تعامل په نامه یادیږی.
- تعویضی تعامل هغه تعامل ته وایی چی په یوه تعامل کی یو عنصر د بل عنصر ځای بدل او خپله یی ونیسی.
- کیمیاوی معادلی د تعامل لیکل د سمبولونو او تورویه واسطه د کیمیاوی معادلی په نوم یادیږی.
- د انسان د بدن کتله په سلو کی لس برحی هایدروجن نیولی ده
- دانسان دبدن کتله په سلو کی ۶۵ برحی اکسیچن نیولی
- اروماتیک مرکبونه هغه عضوی مرکبونه دی چی د ډیرو د سکاراواو نفتو څخه په لاس راځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په اتوم باند د اتوم نوم ديموكرات كيښوده.
- نيوترون د چاوديډيک لحوا کشف شو
- سپين کونتم نمبر د الکترونونو تاويدل د خپل محور په شاوخوا باندی د سپين کوانتم نمبر په نامه يادېږی
- په جدول کی عمودی کربنی د گروپ په نامه يادېږی.
- په جدول کی عمودی کربنی د پيريود په نامه يادېږی
- قطبی اړيکه چی د هغوی په دواړه خواوو کی مثبت او منفی قسمی چارجونه شتون ولری د قطبی اړيکو په نوم يادېږی.
- بلوری شبکه يو دری بعدی جوړښت ته بلوری شبکه وايی.
- اندازه کول د واحد سره د يوه عدد پتله کواو ته اندازه کول وايی.
- واحد: هغه شی چی مطلوب جسم مقدار پری معلومېږی د واحد په نوم ياد يږی لکه کيلوگرام
- بين المللی واحدات استعمال له محی په دوه قسمه ده ۱:اصلی واخدات ۲: فرعی واخدات
- اصلی واخدات هغه د واخدات د ی چی يوازی استعمالېږی د بل واخد سره اړه نلری.
- اصلی يا اساسی واخدات اووه دی ۱: د طول واخد ۲: د کتلی واخد ۳: د وخت واخد ۴: د بريښنا د جريان واخد ۵: د تودوخی درجی واخد ۶: د ذراتو د مقدار واخد ۷: نور د شدت واخد
- اوږدوالی واخد متر دی m د متر ځخه۹ لوی واخداتو ته د متر اضغاف وايی چی عبارت د ی له ۱: ديکا متر ۱۰ m ۲: هيکتو متر ۱۰۰ m ۳: کيلو متر ۱۰۰۰ m ميگا متر ۱۰۶ m
- متر ځخه کوچنی واخداتو ته د متر اجزا وايی چی عبارت د له : ديسی متر سانتی متر ملی متر مکرومتر نانو متر پيکو متر
- m.k.s په سيستم کی د کتلی واخدکيلو گرام دی.
- c.g .s په سيستم د کتلی واخد گرام دی
- د گرام ځخه لوی واخداتو ته اضغاف ويل کيږی لکه ديکا گرام هکتوگرام کيلو گرام ميگا گرام
- دگرام ځخه کوچنی واخد اتو ته اجزا ويل کيږی لکه ديسی گرام سانتی گرام ملی گرام مکرو گرام
- وخت واخد: وخت يو فزيکی نو بعدی متماد ی کميت دی چی د واقعاتو او اشياو عمرونه پری اندازه کيږی.
- د وخت واخد ثانيه ده يوه ثانيه د شواروز يو پر شپږ اتيا زره څلور سوه برخه ده.
- د برق د جريان واخ امپيردی امپير په يوه ثانيه کی د يوی هادی ځخه يو کولمب چارج عبور ته امپيروايی.
- د حرارت د اندازه کولو واخد کالوين دی
- د ذراتو د اندازه گولو واخد مول دی
- د نور د شرت واخد کنديل دی
- فرعی واخدات: هغه واخدات چی د اصلی واخداتو د ضرب يا تقسيم په نتيجه کی لاس ته داعلی وی فرعی واخدات بلل کيږی.لکه د قوی واحد نيوتن ۲ د مساحت واخد $m^2$ ، حجم واخد $m^3$ او داسی نور
- کميت: د اندازی وړ شی ته کميت ويل کيږی
- کميتونه په دوه ډوله دی ۱ سکالری کميتونه ۲ وکتوری کميتونه
- ۱ سکالری کميتونه هغه کميتونه دی چی معرفت يی يوازی په اندازی گيری تقمليږی لکه : کثافت چارج ، انرژی ، مساخت ، وخت او داسی نور
- ۲وکتوری کميتونه :هغه کميتونه دی چی معرفت يی يوازی په اندازه گيری نه تقمليږی بلکی جهت ته هم ضرورت لری لکه : سرعت ، تعجيل ، قوه ، وزن ، او داسی نور
- جهت لرونکی مستقم خط ته وکتور ويل کيږی.
- د وکتور ښودنه وکتور د مبداء او انجام تورو په واسطه ښودل کيږی او په سر يی د وکتور علامه کيږی په دی شرط چی د مبدا توری مکی راشی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- موازی وکتورونه : هغه وکتورونه دی چی شریکه نقطه نلری او نه یی امتداد څخه کومه شریکه نقطه پیداا نشی .
- مساوی وکتورونه هغه وکتورونه دی چی موازی هم جهته او اوږدوالی سره مساوی وی.
- قوه هر هغه عامل چی متحرک جسم ساکن او ساکن جسم متحرک کړی قوه بلل کیږی.
- متضاد کتورونه هغه وکتورونه دی چی موازی، مساوی ، او محلاف جهت وی متضاد وکتوربلل کیږی.
- مختلف کتورونه هغه وکتورنه دی چی په جهت او مقدار کی فرق ولری مختلف کتور بلل کیږی.
- نور: یو الکترونی مقناطسی موج دی چی طول یی ډیر کم دی او د شیانو د لیدلو سبب ګرځی.
- اجسام د نور له کبله په دوه ډوله دی ۱: نورانی اجسام ۲: عیری نورانی اجسام
- ۱: نورانی اجسام هغه اجسام د ی چی له خانه نور لری او د نورو شیانو لیدلو سبب ګرځی لکه لمر ، څراغ ، ګروپ ، شمعه او داسی نور

۲: عیری نورانی اجسام هغه اجسام دی چی له خانه نور نه لری او د نورانی اجسامو د نور په واسطه ښودل کیږی لکه ښیښنه ، پلاستیک ، او ډبره او داسی نور

عیری نورانی اجسام د نور د عبور په اساس په دری ډوله دی ۱: شفاف ۲: نیم شفاف ۳: عیری شفاف اجسام

۱: شفاف اجسام هغه اجسام دی چی نور مکمل ډول ور څخه تیریږی لکه ښیښنه اوبه هوا او داسی نور

۲: نیم شفاف اجسام هغه اجسام دی چی یوه اندازه نور ور څخه تیریږی او باقی نور بیرته ګرځوی لکه ګل داره ښیښنه پلاستیک او داسی نور

۳: عیری شفاف اجسام هغه اجسام دی چی نور ورڅخه نه تیریږی او په مکمل ډول یی بیرته ګرځوی لکه فلزات ښیښنه ډبره لرګی او داسی نور

- عیری شفافو اجسامو ته قدری اجسامو هم ویل کیږی.
- نور انعکاس : که د نور وړانګه د نور منبع څخه په یوه قدری جسم باندی ولویږی دعه وړانګه د جسم څخه نه تیریږی بیرته ګرځی دی بیرته ګرځیدوته د نور انعکاس وایی.
- وارده وړانګه : هغه وړانګه چی د نور منبع څخه په جسم ولویږی وارده وړانګه بلل کیږی لکه (sI)وړانګه
- منعکسه وړانګه : هغه وړانګه ده چی د جسم څخه ګرځی دی ته منعکسه وړانګه وایی لکه IR وړانګه
- نارمل: د وارده وړانګی او د جسم د تقاطع په نقطه کی فرضی عمود ته نارمل وایی لکه NI نارمل
- وارده وړانګی او نارمل تر منځ زاونه په وارده زاویه وایی لکه SIN زاویه
- منعکسه وړانګه : د منعکسه وړانګی او نارمل تر منځ زاویه ته منعکسه زاویه وایی لکه MTR
- نقطه هغه شکل دی چی ابعاد یی د اندازه وړ نه وی
- انعکاس ډولونه: انعکاس په دوه ډوله دی ۱: منظم انعکاس ۲:عیری منظم انعکاس

۱:که یو بنډل وړانګی په یوه نواره سطحه ولګیږی منعکسه وړانګی دوارده وړانګو په څیر انعکاس کوی دی انعکاس ته منظم انعکاس وایی

۲: عیری منظم انعکاس که یو بنډل وړانګی په ناهواره سطحه ولګیږی منعکسه وړانګی په مختلفو جهتونو باندی انعکاس کوی دی انعکا س ته عیری منظم انعکاس وایی.

انعکاس قوانین: انعکاس دوه قوانین لری

۱: وارده وړانګه منعکسه وړانګه او نارمل دری واړه په یوه مستوی کی واقع دی

۲: وارده زاویه او منعکسه زاویه سره مساوی دی.

- هنداره: هر صیقل شوی سطحه چی نور ته په منظم ډول نعکاس ورکوی هنداره بلل کیږی.
- هنداری په دوه ډوله دی ۱:مستوی هنداره ۲: کروی هنداره

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ۱: مستوی هنداره هغه هنداره دی چی سطحه یی د ولاړو اوبو د سطحی په شان هواره وی لکه: د جیب هنداره سلمانیانو دوکان هنداره
- تصویر: د منعکسه وړانګو د تقاطع هغه نقطه چی د لیدلو وړ وی نصویر بلل کیږی.
- تصویر په دوه ډوله دی ۱: مجازی تصویر ۲:حقیقی تصویر
- : مجازی تصویر هغه تصویر دی چی د منعکسه وړانګو د امتداد د تقاطع په نقطه کی تشکلیږی مجازی تصویر د پردی پر مخ نه ښودل کیږی.

۲: حقیقی تصویرهغه تصویر دی چی د منعکسه وړانګو د تقاطع په نقطه تشکلیږی حقیقی تصویر د پردی پر مخ لیدل کیږی.

- کروی هنداری هغه هنداری دی چی سطحه د حالی کُری یوه برخه وی
- کروی هنداری په دوه قسمه دی ۱: مقعری کروی هنداری ۲: مخدبی کروی هنداری

۱: مقعری کروی هنداری چی حارچی برخه یی جیوه شوی وی او داخلی برخه یی نور ته انعکاس ورکوی مقعری کروی هنداری بلل کیږی.

- مقعرو هنداړو ته متقاربی هنداره هم ویل کیږی

۲: مخدبی کروی هنداره هغه کروی هنداری دی چی داخلی برخه یی جیوه شوی وی او خارجی برخه یی نور ته انعکاس ورکوی.

- مخدبی کروی هنداړو ته متباعدی هنداره هم ویل کیږی
- لوی ښودنه د تصویرد فاصلی او د جسم د فاصلی نسبت ته اوی ښودنه وایی او په M سره ښودل کیږی
- انکسار یوه وړانګه د دوو مخیطونو په مشترک فصل ولویږی مشترک فصل کی خپل جهت ته تعیر ورکوی دی پیښی ته نور انکسار وایی.
- دیوپتر: دوه مخیطونو تر مینځ د جدایی سطخی ته دیوپتر ویل کیږی لکه د اوبو او هوا تر مینځ د جدایی سطخه
- متوازی الاسطوع تیغه : هغه شفاف مخیط چی د دوه مسطع دیوپترونو په واسطه د بل شفاف مخیط څخه تیریدل د متوازل الاسطوع تیغه ویل کیږی.
- بحرانی زاویه: هغه زاویه ده چی منکسره زاویه یی ۹۰ درجی وی
- کلی انعکاس کله چی وارده زاویه د بحرانی زاویه څخه لوی شی نو په صورت کی وړانګه دویم مخیط ته داخلیږی بیرته اول مخیط ته راګرځی چی دی انعکاس ته کلی انعکاس وایی.
- سراب: د اجسامو د خپل ځای څخه پورته یا سرچپه معلومیږی د سراب په نوم یادیږی لکه کښتی په هوا معلومیدل په دښتو کی بوتی سرچپه معلومیدل کیر سرکونو اوبو منظره لیدل.
- منشور یو شفاف جسم دی چی د دوو موازی سطخوپه واسطه مخدود شوی
- عدسه : یو شفاف جسم دی چی د دوو کروی یا یوی کروی مستوی شفافو سطخو په واسطه اخاطه شوی وی.
- عدسی په پنځه ډوله دی ۱: مخدبوالطرفین ۲: مقعروالطرفین ۳: مخدبو المقعر عدسی ۴:مخدبی المستوی عدسی ۵: مقعرالمستوی عدسی
- مخدبی عدسی : هغه عدسی دی چی د دوه کروی هنداړو په واسطه اخاطه شوی وی
- اصلی مخور: هغه خط دی د انخنا د مرکزونوسره وصلوی
- عدسی مخور: هغه خط چی د عدسی راسونه سره وصلوی عدسی د مخور په نوم یادیږی
- اپتیکی مرکزیا نوری مرکز: د اصل مخور او د عدسی مخورد تقاطع نقطی ته اپتیکی مرکز وایی.
- مقعری عدسی هغه عدسی دی چی د دوه کروی هنداړو څخه جوړی شوی وی او منځنی برخه یی نری او پنډه وی
- خازن یا کاندنسر: هغه آله ده چی د چارج د ذخیره کولو لپاره کارول کیږی
- خازن په دوه ډوله دی ۱:ثابت خازن ۲: متخرک خازن

۱: ثابت خازن هغه خازن دی چی د دوو ثابتو لوخو او یو عایق یعنی هوا په واسطه مخدود شوی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲: متحرک خازن هغه خازن دی چی لوخی یی د چارج د ذخیره کیدلو په وخت کی په حرکت راځی متحرک خازن د ثابتو لوخوبرسیره دوه متحرکی لوخی هم لری.

- بریښنا یو یونانی کلمی الکترا څخه اخیستل شوی چی معنایی کهربا ده او په اصطلاخ کی یو ډول انرژی ده چی تر اوسه پوری یو مرموز شی دی او د بریښنا د جریان د اندازه کولو واخد امپیر دی
- بریښنا مقاومت : دبر ښنایی مقاومت ولتیج او د بریښنا جریان شدت تر مینځ نسبت ته بریښنا مقاومت وایی.
- فزیک ځینی څانګی : ۱د مادی تراکم فزیک ۲ د لوړی انرژی لرونکی ساده ذرو فزیک
- میخانیک فزیک: د فزیک د علم هغه څانګه دی چی د اجسامو د حرکت او سکون شرایط مطالعه کوی
- میخانیک فزیک په دوه ډوله دی ۱ ډینامیک فزیک ۲: سینماتیک فزیک
- ډینامیک فزیک د میخانیک فزیک هغه څانګه ده چی د اجسامو حرکت او سکون سره دعلته او قوی مطالعه کوی
- سینماتیک فزیک : د میخانیک فزیک هغه څانګه ده چی اجسامو حرکت او سکون بی له علته او یا بی له قوی مطالعه کوی.
- تغادل یا انډول د اجسامو تعادل عبارت د هغه خالت څخه دی چی د اجسامو د سکون دمرکز یا اتیکا د نقطی د په شاوخوا کی د سکون خالت اختیار کړی
- میخانیک تعادل: عبارت د هغه تعادل څخه دی چی د ټولو قوو مخصله یی صفرشی او یا ده چی یو جسم د مومنټونو مجموعه سره مساوی شی .
- موازی قوه: هغه قوه ده چی مشترکه نقطه ونلری که امتداد ورکړل شی یو بل نه قطعه کوی.
- متلاقی یا غیری موازی قوه: څو قوی چی د تاثیر نقطه یی مشترکه او جهتونه یی مختلف وی د متلاقی قوو یا غیری موازی قوویه نوم یادیږی.
- مخصله قوه : عبارت هغه قوی څخه دی چی د دوه یا څو قوود تاثیر په نتیجه کی مینځ ته راغلی وی او مقداریی په ځانګړی توګه د هری قوی څخه زیات وی .
- متقابله قوه : عبارت د هغه قوی څخه دی چی عامله قوه یی خنثی او د جسم د تعادل سبب وګرځی .
- لکه د یو د فنر د انجام پوری د یو قوی ترل
- تعادل په دری ډوله دی ۱:پیداره ۲:ناپیداره ۳: بی تفاونه تعادل

۱: پیداره تعادل : که چیرته یو جسم د تعادل څخه وایستل شی او بیرته خپل لومړنی خالت ته راوګرځی نو ویل کیږی چی دعه اول تعادل پیداره تعادل دی په پیداره تعادل کی ثقل مرکز د قاعده ته نژدی پروتی وی.
۲: ناپیداره تعادل: که چیرته یو جسم د تعادل د خالت څخه حارج کړی شی او بیرته اولنی خالت ته راونه ګرځی

دعه ډول تعادل ته ناپیداره تعادل وایی.

په ناپیداره تعادل کی د ثقل مرکز د قاعده څخه لري واقع وی.

۳: بی تفاوته تعادل : که یو جسم په هر حالت کی خپل تعادل وساتی دعه ډول تعادل ته بی تفاوته تعادل ویل کیږی

په بی تفاوته تعادل کی د ثقل مرکز په مرکز کی وی

- د قوی مومنټ:هر هغه موثر عامل یوی نقطی یا اتیکا د نقطه په شاوخوا د یو جسم د څرخیدو سبب وګرځی د قوی مومنټ په نوم یادیږی

- حرکت د یو جسم د موقعیت تعیر ته حرکت ویل کیږی

- حرکت په دوه ډوله دی ۱: یو بعدی حرکت ۲:دوه بعدی حرکت

۱: یو بعدی حرکت په دری ډوله دی ۱: مستقم الخط حرکت ۲: عمودی پرتاب ۳: ازاد سقوط

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دوه بعدی حرکت په دری ډوله دی ۱: افقی پرتات ۲: دایروی حرکت ۳: مایل پرتاب
- یو بعدی حرکتونو ته دی چی مستقم حرکت مسیر یو بعدی وی
- دوه بعدی حرکتونه هغه حرکتونه د یچی د حرکت مسیر دوه بعدی وی یا عیری مستقیم خط وی
- افقی خرکت عبارت له هغه خرکت څخه دی چی د خرکت مسیر یی یو مستقیم خط وی.
- چټکتیا د وخت په واخد وهل شوی فاصله څخه عبارت ده.
- سرعت : د وخت په واخد کی د وهل شوی فاصله څخه عبارت دی چی لوری معلوم یا مشخص وی.
- مکان یا موقیعت تعیر: کله چی د یو جسم په واسطه یو فاصله طی شی نو وهل شو یفیاصله د تعیر مکان په نو م یادیږی.
- مالیکول تعریف: د مرکب کوچنی ذره د مالیکول په نوم یادیږی.
- مرکب تعریف: دوه یا د دوو څخه زیات عنصرونه د مرکب په نوم یادیږی.

عطاالرحمن محمدی شینواری

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**